$\Delta_{it}$. په اساسي سيستم کې داضافي مجهولوقوو $X_1$،$X_2$ ، .....،$X_n$ په استقامت کې دځای تودوخيزبدلون دی چې دلاندينيوفورمولونو په مرسته پيداکيږي:

$$\Delta_{nt}=\sum\alpha\frac{(t_1-t_2)}{h}\Omega_{\bar{M}}\int\bar{M}_n dx+$$

$$+\sum\alpha\frac{(t_1-t_2)}{h}\Omega_{\bar{M}}\int\bar{N}_n dx\ \ldots\ldots\ldots\ldots.\ (9.8)$$

همدارنګه په ساده توګه د ځای بدلون د ټاکنې له پاره دغه فورمول کارولی شو:

$$\Delta_{nt}=\sum\alpha\frac{(t_1-t_2)}{h}\Omega_{\bar{M}}+\sum\alpha\frac{(t_1-t_2)}{h}\Omega_{\bar{N}}\ \ (9.9)$$

$\Omega_{\bar{M}}$ او $\Omega_{\bar{N}}$. دا $\bar{M}_n$ او $\bar{N}_n$ واحدی دياګرامونو مساحتونه دي.

**۹,۲مثال**

درې وايه غيرمنقطع ګاډرچې لوړوالی يې ثابت $h$ دی دتودوخې لاندې دی(۹,۶ شکل).که شخي يې $EI = const$ ثابته وي نو د تودوخې داغيزڅخه دکوړوالي مومنت دياګرام رسم کړئ.

**حل**

ترهرڅه دمخه دناټاکليتوب درجه پيداکوو:

$$l = 3 \times 4 - 10 = 2$$

بيا د حل په موخه کانونيکي معادلې ترتيبوو:

$$\delta_{11}X_1 + \delta_{12}X_2 + \Delta_{1t} = 0;$$
$$\delta_{21}Z_1 + \delta_{22}X_2 + \Delta_{2t} = 0 \ (8.10)$$




له دې ځ

$$\delta_{11} = \frac{1}{EI}\left[\frac{1}{2}\frac{2l}{3}l.\frac{2}{3}\frac{l2}{3} + \frac{1}{2}\frac{2l}{3}2l.\frac{2}{3}\frac{2l}{3}\frac{2l}{3}\right] =$$

$$= \frac{12l^3}{27EI} = \delta_{22}$$

$$\delta_{12} = \frac{1}{EI}[\frac{1}{2}\frac{2l}{3}l.\frac{2}{3}\frac{l}{3} + \frac{1}{6}(2\frac{2l}{3}\frac{l}{3} + 2\frac{l}{3}\frac{2l}{3} +$$

$$+\frac{2l}{3}\frac{l}{3}\frac{2l}{3}+\frac{l}{3}\frac{l}{3}+\frac{1}{2}\frac{l}{3}l.\frac{2}{3}\frac{2l}{3}]=\frac{21}{54EI}\frac{l^3}{}=\delta_{21}$$

$$=\Delta_{1t}=-\alpha\frac{l}{h}\frac{1}{2}\frac{2l}{3}.3l=-\alpha l\frac{l^2}{h}=\Delta_{2t}$$

د دوومعادلودحلولوپه پايله کې په لاس راوړوچي:

$$X_1=X_2=\frac{6\propto tEI}{5hl}$$

په پايله کې دتودوخې څخه دکوږوالي مومنت $M_t$ دياګرام رسموو د ۹,۷ اخرنی شکل.




۹,۷ شکل:دياګرامونه

**۹,۸ داتکاءپه بدلون کې دناټاکلي ستاتيکي سيستمونو شميرنه**

اتکاءيز عکس العملونه اضافي قوې رامنځ ته کوي،که چيرې په دې حالت کې اضافي نښتنوپه استقامت کې داتکاءګانو بدلون را منځ ته شي.

**۹,۳مثال**

يو درې ميله يز چوکاټ ګورو(۹,۸ شکل).که د هغې د ښي خوا اتکاء ازاده کړو،نو څرګنده ده ، چې هغه افقي ،عمودي د ځای بدلون او د زاويې لاندې دوران مومي . د ۹.b۸ شکل کې کتل کيږي چې سيستم اساسی دي او اضافي قوه $X_1$ دهمدې اتکاءد ځای د بدلون په استقامت کې عمل کوي،نو په همدې ترتيب دقوودميتودکانونيکی معادلې لاندنی شکل ځانته غوره کوي:

$$\delta_{11}.X_1 + \delta_{12}.X_2 + \delta_{13}.X_3 = a;$$
$$\delta_{21}.X_1 + \delta_{22}.X_2 + \delta_{23}.X_3 = -b;$$
$$\delta_{31}.X_1 + \delta_{32}.X_2 + \delta_{33}.X_3 = \varphi.$$

د سيستم د پورتنيوفورمولو څخه دوېمه معادله داسې دا ډول مفهوم څرګنديږي،چې د $X_1$ قوې له اثره د $X_2$ قوې په استقامت کې ($\delta_{21}.X_1$ )منځ ته د Aنقطې دځای بدلون جمع د $X_2$ قوې اثره د همدې قوې په استقامت ($\delta_{22}.X_2$) کې د همدې نقطې د ځای بدلون جمع د مومنت له اثره د په استقامت کې د خای بدلون بايد د $X_2$ په استقامت کې په حقيقي ډول د ښي خوا اتکاء د ځای بدلون سره برابر وي يعنې $\Delta_A =$ $-b$ منفي علامه ښيي چې د $X_2$ قوې استقامت کې




۹,۸ شکل: درې ميله يزچوکاټ

په عمودي حالت کې د همدې اتکاء د ځای دبدلون سره مخالف دی.

له دې نه ورسته د $X_1$،$X_2$ او $X_3$ مجهول قیمتونه پیدا کوو او د نارملي عرضي قوواود کوږوالي مومنت دیاګرامونه رسموو.

**۹,۴ مثال**

یو ګاډرچې د دریواتکاءګانو(۸,۹ شکل) له پاسه پروت دې پام کې نیسو په دې ګاډرکې دکوږوالي دننه مومنتونه منځته راځي.په کیفي ډول دغه اتکاءګانې غورځوواوپرځای یې مجهول $X_1$ قیمت عوض کوو.اټکلوو، ددې لپاره دکانونیکي معادلې په مرسته یې پیداکولی شو:

$$\delta_{11}.X_1 = -\Delta_{\mathbf{1}}$$

له دې ځایه:

$$X_1 = -\frac{-\Delta_{\mathbf{1}}}{\delta_{11}}$$

او:

$$\delta_{11} = \frac{l^3}{6EI}$$

نوځکه:

$$X_1 = -\frac{-6EI.\Delta_1}{l^3}$$




۹,۸ شکل:درې اتکاءيزګاډر[ $2 - \text{С}.M.C.K.\text{ст } 41{:}\,53$ ]

**۹,۵ مثال**

د دوو وايه يزګاډر(۹,۹ شکل) له پاره دکوږوالي مومنت اوعرضي قوو دياګرامونه رسم کړئ.

**حل**

د مجهولوعکس ا لعملونو $R_A$، $R_B$ او $R_C$ د پيدا کولو له پاره د ستاتيک تعادلي معادلې ترتيبوو:

$$\sum M_A = R_C \times 2l + R_B \times l - F \times 0.5.l = 0\,;$$

$$\sum M_C = R_A \times 2l + R_B \times l - F \times 1.5.l = 0\,;$$

له پورتنيوفورمولوڅخه مجهول عکس العملونه پيدا کوو:

$$R_C = 0.25\,F - 0.5\,R_B;$$

او:

$$R_A = 0.75\,F - 0.5\,R_B;$$

د دې درې واړو اتکاءیزو عکس العملونو دټاکنې له پاره دقوومیتود د کانونیکی متوازنودوومعادلوسیستم لرو،نوځکه لیکوچې:

$$\delta_{11}.X_1 + \Delta_{1F} = 0,$$

په دې معادلوکې :

$X_1$- دمجهولوله جملې څخه یواتکاءیزعکس العمل دی.

$\delta_{11}$- دغورخیدلې عکس ا لعمل $X_1$ په استقامت کې د واحدي بارڅخه د ځای بدلون دی.

$\Delta_{1F}$- دغورخیدلې عکس ا لعمل $X_1$ په استقامت کې د بهرنـي بار څخه د ځای بدلون دی.

یو اضافي اتکاء یزعکس $R_B = X_1$ غورځوو،په پایله کې یو وایز ګاډر(۹. ۹b شکل)په لاس راوړو.د دې ګاډرلپاره د بهرنـي بارF څخه د کوږوالی $M_F$ دیاګرام رسموو.

همدارنګه دبل عکس العمل $R_C$ پیدا کولو له پاره معادله ترتیبوو:

$$\sum M_a = R_C \times 2l - 0.5lF = 0;$$

له دې ځایه $R_C$ په لاس راوړو:

$$R_C = 0.25\,F$$

همدارنګه د پیداکولوله پاره لیکوچي:

$$\sum M_C = R_a \times 2l - 1.5lF = 0;$$

له دې ځايه $R_A$ په لاس راوړو:

$$R_A = 0.75\,F$$

د $M_F$ کوږوالي مومنت د دياګرام درسمولولپاره يوازې په درېونقطو کې دکوږوالي مومنتونوقيمتونه (۹.b ۹شکل) پيدا کول کافي دي:

$$M_A = M_C = 0;$$

او همدارنګه

$$M_D = 0.75\,F \times 0.5\,l = 0.378\,Fl.$$

د B په نقطه کې د ځای دبدلون $\Delta_{1F}$ د ټاکنې له پاره د واحدي بار له اغيزڅخه،چې د غورځيدلي اتکاءيزعکس العمل $R_B$ په استقامت کې واقع ده د $\bar{M}_i$ کوږوالي مومنت دياګرام رسموو(۹.C ۹شکل).

د ويرشاګين د طريقې په مرسته دموئرانتګرال شميرو د $\bar{M}_i$ $M_F$ او مومنتونو دياګرامونه په دووبرخوويشوترڅو چې د ځانګړې برخې په دياګرام کې مايله کرښه نه وي يعنې دځای بدلون پيداکوو:

$$\Delta_{1F} = -\frac{1}{EI}\{\frac{1}{2}0.37 \times Fl \times 0.5l \times \frac{2}{3}0.25l +$$

$$+\frac{0.5l}{6}[2 \times 0.37Fl \times 0.25l + 2 \times 0.25Fl \times$$

$$\times 0.5l + 0.37\,Fl \times 0.5l + 0.25Fl \times$$

$$\times 0.25l] + \frac{1}{2}0.25Fl \times l \times \frac{2}{3}0.5l\} = -\frac{11Fl^2}{96EI}$$

د ځای دبدلون $\delta_{11}$ د ټاکنې له پاره د ويرشاګين دطريقې له مخې د $\bar{M}_i$ دياګرام په خپلوکې سره ضربوو:

$$\delta_{11} = \frac{2}{EI}\left(\frac{1}{2}0.5l \times \frac{2}{3}0.5l\right) = \frac{l^3}{6EI}$$

لاس ته راغلی قیمت د قوود میتود په کانونیکي معادله کې وضع کوو اوپه لاس راوړوچې :

$$X_1 = R_B = -\frac{\Delta_{1F}}{\delta_{11}} = \frac{11Fl^3}{96EI \times l^3} = 0.687\ F$$

د پخوانیومعادلوڅخه په لاس راوړوچې:

$$R_C = 0.25\ F - 0.5R_B = 0.25F - 0.5 \times$$

$$\times\ 0.687F = -0.0937F;$$

او:

$$R_A = 0.75\ F - 0.5R_B = 0.75F - 0.5 \times$$

$$\times\ 0.687F = -0.406F;$$

د اتکاءیزوعکس العملونومثبت قیمتونه ښیي چې په اتکلي توګه مو دهغوجهتونه سم ټاکلي دي.اومنفي ښیي ښیي چې دشمیرنې څخه پرته غوره شوي قیمتونه باید معکوس عوض شوی وی لکه د $R_C$ اتکاءیز عکس العمل کله چې اتکاءیزعکس العملونه وټاکل شو،نوپه اسانۍ سره د $M$ کوږوالي مومنت دیاګرام رسم کړو(۹.d۹شکل):

$$M_A = M_C = 0;$$

$$M_D = R_A.\,0.5l = 0.203Fl;$$

$$M_B = R_C.\,l = -0.093Fl;$$

اوهمدارنګه دعرضي قووقیمتونه شمیرلی شو:

$$Q_{AB} = R_A;$$

$$Q_{DB} = R_A - \mathrm{F} = 0.593\ \mathrm{F};$$

$$Q_{BC} = -R_C = 0.093\ \mathrm{F}$$




۹,۹ شکل:دوه وایزګادر[2-C.M.K-242-244]

## ۹.۹ دمومنتونودويش ميتود

دغه ميتود پرله پسي اټکلي ميتود دی.دشميرنې په بهرکې د اساسي او د ورکړل شوي سيستمونوپه منځ کې ضدونقيض رامنځ ته کيږي،چې په شيمرنه کې بايددغه ترتيب په پام کې ونيول شي:

۱ .ورکړل شوی سيستم بايد د سختوغوټولرونکي سختي تکاءګانې په ميله يز اساسی سيستم باندې بايدواړول شي (۹,۱۰ شکل).

۲ .داساسي سيستم په ټولوميلوکې دبهرني بارنه دکوږوالي مومنتونو دياګرامونه بايدرسم کړی شي .دهرې يوې غوټې لپاره د $\sum M_n =$ تعادلي معادله نه کارول کيږي. دn- د غوټوشميردی(۹.b۱۰شکل).

۳ . په هره غوټه کې بايدنابرابرمومنت $R_i$وشميرل شي، چې دهغه په وضع کولوسره دغوټې تعادل راځي.دبيلګې په توګه د ۹.b,c۱۰ شکلونوله مخې لروچې : $R_2 = {Fl}/_8$  $R_3 = {Fl}/_8 - {ql^2}/_{12}$




ورکړل شوی سيستم




اساسي سيستم




د $R_2$ برابرمومنت ويشنه

۹,۱۰ شکل:چوکاټ

او $R_3 = {ql^2}/{12}$ نابرابرمومنت چې غوټ دساعت دستنې په مطابق دوران ورکوي مثبت ګڼل کيږي.

۴.دتولوميلوله پاره دويشنې ضريب ټاکل کيږي:

$$\mu_y = \frac{i_y}{i_{ij} + i_{ik} + \cdots + i_{iq}} = \frac{i_y}{\sum i_m} \quad (9.11)$$

په دې فورمول کې:

m.دمیلوپه i-m غوټوکې دسختونښتنوشیمردی. دارتجاعي سختي اتکاء لپاره سختي په لاندې ډول پیداکوو:

$$i_y = \frac{EI_y}{l_y}$$

دغوټې یزې نښتنې لپاره :

$$i_y = \frac{3EI_y}{4l_y}$$

د ناخوځندې(ساکنې)نښتنې لپاره:

$$i_y = \frac{EI_y}{2l_y}$$

د بیلګې په توګه د 2غوټې میلولپاره(۹.b۱۰شکل) لپاره:

$$i_{21} = \frac{3EI_{21}}{4l_{21}} = \frac{3E2I}{4.2l} = \frac{3EI}{4l};$$

$$i_{26} = \frac{1EI_{26}}{2l_{26}} = \frac{1EI_{26}}{2.\,l_{26}} = \frac{EI}{2h} = \frac{EI}{2l} = i_{25}$$

$$i_{23} = \frac{E2I}{l} = 2\frac{EI}{l} \sum i_{2m} = i_{21} + i_{25} + i_{26} +$$

$$+i_{23} = \frac{15EI}{4l}$$

دلاندیني فورمول له مخې :

$$\mu_y = \frac{i_{21}}{\sum i_m} = \frac{4l}{\frac{15EI}{4l}} = 0.2;\ \mu_{25} = \mu_{26} = \ 0.13\ \ \mu_{23} = 0.53$$

۵.د $R_n$غوټه دنښتنې نه خلاصوواوپرځای يې نابرابرمومنت وعوض کوو او دغه مومنت په ټولوميلو ويشوو،چې د $n$ غوټې نه تيريږي،کوم چې د $\mu_y$ ضريب سره متناسب دی.

اساسي مومنتونه د $R_n$ مومنت سره متوازن دي په راوړو:

$$M_{nj} = \mu_{nj}.R_n$$

لکه د 2 غوټې(۹.c۱۰ شکل) لپاره:

$$M_{21} = \mu_{21}.R_2 = 0.25.Fl;$$

$$M_{26} = \mu_{26}.R_2 = 0.13.\frac{Fl}{8} = 0.016Fl,$$

$$M_{23} = 0.066Fl;$$

$$M_{25} = M_{26}$$

۶.هم مهاله د متوازن مومنت سره يو ځای په مخالفه څنډه (په ازاده غوټه کې) دوېم مومنت د مخالفي علامې سره د $M_y$ په پرتله منخ ته راځي.د دې حالت لپاره (۹.c۱۰ شکل) لرو چې[2:70-72]:

$$M_{32} = -\frac{M_{23}}{2};\ M_{52} = -\frac{M_{25}}{2}.$$

۷.په n غوټه کې د مومنتونود ويشنې نه وروسته او په هغې باندې عوضي ور زياتوو اوګاونډي غوټې(۹.b۱۰شکل). ته ورتيريږو(لکه غوټه) په دې غوټه کې عمليه تکراريږي، يعنې دپخوانی غوټې د 2 توازن څخه نا متوازن مومنت $R_3$او دويم مومنت .وېشنه$M_{32}$

## ۹,۱۰ ددرې مومنته معادلودميتودپه مرسته دغيرمنقطع ګاډرونوشميرنه

د ثابتي عرضي مقطعي لرونکي ګاډرله پاره د درې مومنته معادله (دکلاپيرون معادله) لاندينی ځيره غوره کوي:

$$M_{n-1}.l_n + 2\mathrm{M_n}(l_n + l_{n+1}) + \mathrm{M_{n+1}}.l_{n+1} =$$
$$= -6\left(\frac{a_n.\omega_n}{l_n} + \frac{b_{n+1}.\omega_{n+1}}{l_{n+1}}\right)$$

په دې فورمول کې د شکل له مخې د $l_n$، $a_n$، $b_n$، $M_n$ او $\omega_i$ پارامترونه ښودل شوي دي.




۹,۱۱ شکل:دوه وايه يزګاډر

### ۹,۵ مثال

دوه وايه يزګاډر( ۹.a۱۲ شکل) له پاره،چې د متمرکزبا رلاندې واقع دی د کوړوالي مومنت اوعرضي قوو دیاګرامونه رسم کړئ.

**حل**

د اساسي سيستم پرځای دوه يزګاډر په پام کې نيسو،چې د ورکړل شوي سيستم څخه ترلاسه کيږي (۹. b ۱۲ شکل).

د دري مومنتي معادله کاروو او په اساسي سيستم کې $n = 1$ په پام کې نيسو:

$$M_0.l_1 + 2M_1(l_1 + l_2) + M_2.l_2 =$$

$$= -6\left(\frac{a_1.\omega_1}{l_1} + \frac{b_2.\omega_2}{l_2}\right)$$

اويا: $$2M_1(l_1 + l_2) = -6(a_1.\omega_1/l_1)$$

يعنې: $$4M_1.l = -6^{\left(\frac{1}{2}.\frac{1}{2}l.\frac{Fl}{4}\right)}\Big/_{l}$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$M_1 = -\frac{3}{32}Fl$$

د پورتنيو فورمولونونه كتل كيږي،چې د فاصله دګينې خوا اتكاء نه ترلوموړی وايې اويا د ثقل دمركزه پورې ده.كومه د هغې له پاره اساسی سيستم رسم شوی دی(۹.b۱۲شكل).دعرضي قوې اودكوږوالي مومنت دلاس ته راغلوقيمتونوله مخې يې دياګرامونه رسموو(۹.c,d۱۲ شكلونه).

د ګاډر په لوموړی وايه كې د لاس ته راغلي مومنت $M_1$ له مخې د لوموړی اتكاءعكس العمل پيداكوو:

$$M_1 = R_A.l - F\frac{l}{2} = -\frac{3Fl}{32}$$

له دې ځايه:

$$R_A = \frac{13.F}{32}$$

د لاس ته راغلي عكس العمل له مخې د $D$اتكاء عكس العمل پيدا كوو:

$$M_D = R_A.\frac{l}{2} = \frac{13.F}{32}.\frac{l}{2} = \frac{13.Fl}{64}$$

او همدارنګه عرضٍي قوه هم پيداکولی شو:

$$Q_{BC} = \left[\frac{M_1}{l_2}\right] = \frac{3F}{32}$$




۹,۱۲ شکل:دوه وايه يزګاډر

د ژورا فسکي فورمول نه کتل کيږي،چې دعرضي قوې عددی قيمت د BC په برخه د مايلې کربښې او د مستقيمې کربښې ترمنځ تانجنت زاويې سره برابردی.

## ۹,۶ مثال

د يوغيرمنقطع دوه وايه يزګاډر(۹.a۱۳ شکل) لپاره چې عرضي مقطع يې ثابته ده دعرضي قوو او د کوږوالي مومنتونو دياګرامونه رسم کړئ.

حل

د اساسي سیستم پرځای یووایه یزګاډرونه نیسو،چې په کې غوټې شاملې دي او د Aپه اتکاءکې سخته اتکاء په غوټیزاتکاء باندې اوړل شوې ده (۹.b۱۳ شکل).اتکلو چې د لومړۍ وایې غیرحقیقي اوږدوالی صفردی. نوپه ترتیب اساسي سیستم ددرې غوټیزیووایه ایزاتکاءیزګاډرڅیره غوره کوي.

دکنسول په برخه کې(۹.f۱۳ شکل) متمرکزباراغیزه متمرکزمومنت $M_3 = -F.l$ رامنځته کوي.

دمئسلې دحل په موخه بایددوه معادلې ترتیب کړو:

$$n = 1;\ 2M_1(l_1 + l_2) + M_2.l_2 =$$

$$= -6\left(\frac{b_2\omega_2}{l_2}\right)$$

$$n = 2;\ 2M_2(l_2 + l_3) + M_1.l_2 + M_3.l_3 =$$

$$= -6\left(\frac{a_2.\omega_2}{l_2} + \frac{b_3.\omega_3}{l_3}\right)$$

د شمیرنې لپاره ټول ضروري هندسي پارامترونه په کې ښودل (۹.b۱۳شکل) شوې دي.د شمیرنې دساده کولو موخه په دریمې وایې $l_3 = 3\ M$کې دمتمرکزمومنت $m = 6\ KN.M$ لپاره د کوږوالي مومنت او د اتکاء یز متمرکز مومنت $M_3 = -2\ KN.M$ بیلا بیل رسم شوي (۹.c۱۳شکل).

په فورمول کې دهغې عددي قیمتونه وضع کوو:

$$2M_1(2) + M_2.2 = -6\left[\left(1.\frac{2}{3}.2.10\right)/2\right];$$

$$M_1.2(2+3)+M_3.3=-6\left[\left(1.\frac{2}{3}.2.10\right)/2\right]+$$
$$+\left[\left(-2.\tfrac{1}{2}.3.1.5+1.\tfrac{1}{2}.3.1.5-1\tfrac{2.3}{2}\right)/3\right]$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې: $M_1=-7.718$او
دمومنتونو دغه قيمتونه او د C په نقطه کې کې $M_2=-4.56\ KN.M.$
مومنت چې د $M_3$ مومنت $M_C=M_3=-2\ KN.M$ سره برابردی ځای پرځای کوو(۹.b۱۳ شکل).

له دې نه وروسته دغوتېې يووايه يزګارچې د AB برخه نيسي او اتکاء په دوو متمرکزو مومنتونو $M_1$ او $M_2$ بار شوې د کوږوالي مومنت دياګرام رسموو.

اوس تعادلي معادله ترتيبوو:

$$\sum M_B=-7.72+R_A.2-20.2.1=0;$$

له دې ځايه دعکس العمل قيمت پيداکوو:

$$R_A=21.58\ KN$$

د $Q_A=R_A=21.58$ قيمت په پام کې نيولوسره د ګينې خواعرضي قوه پيداکوو:

$$Q_B^{L.S}=R_A-ql_2=21.58-20.2=-18.42$$

د ABپه برخه عرضي قوه د صفري مقطعې څخه تيريږي،نو د دې برخې په حدودوکې د وايه يز مومنت مومنت تجربوي قيمت ذ A اتکاءڅخه د x په فاصله کې په لاس راوړو:

$$M_x=R_A.x-M_1-\frac{qx^2}{2}=21.58.x--7.72-\frac{20x^2}{2}$$

د تفاضلي معادلې له مخې :

$$\frac{dM_x}{dx}=21.58-21.x=0$$

له دې معادلې څخه د x قيمت پيداکوو: $x=1.08\ M$ اوپه پايله کې د کوږوالي مومنت قيمت $M_x=3.9$په لاس راوړو.

د ټولولا س ته راغلوقيمتونوله مخې دکوږوالي مومنت M اوعرضي قووQ دياګرامونه رسموو(۹.d,e ۱۳شکل).

د یووایه یزګارډر BC برخه ګورو ، چې په اتکاء یزو مومنتونو $M_2$ او $M_3$اوپه متمرکزمومنت m بارشوی دی. دکوړوالي M مومنت او Q عرضي قوودیاګرامونه رسم کړئ.

له دې وروسته د کوړوالي M مومنت او Q عرضي قوودیاګرامونو کنترول ترسره کوو.د دې له لومړی اتکاءیزعکس العملونه $R_A = 21.58$ ، $R_B$ او $R_C$پیداکوو:

$$R_B = 18.42 - 1.15 = 17.27;$$

او:

$$R_C = 1.15 + 2 = 3.15\ KN;$$

دټول غیرمنقطع ګاډرله پاره تعادلي معادله ترتیبوو:

$$\sum y = 21.58 - 20.2 + 17.27 + 3.15.2 = 0$$






۹,۱۳شکل:ځوواپه ایزناټاکلي ګاډر

د واحدي بارله اغیزه د کوږوالي مومنت $\bar{M}$ دیاګرام رسمووواوبیاد موئردانتګرال اود ویرشاګین دطریقي په مرسته دځای بدلون پیداکوو.

$$\Delta_B = \frac{1}{EI}\Big[\frac{2}{6}(2\times 7.72\times 2 + 2\times 4.65\times 7.72\times 0 +$$

$$+4.56\times 2) - \frac{2}{3}\times\frac{20\times 2^2}{8}\times 2\times 1\Big] = 0;$$

[2: 235-239]

## پوښتنې

### ۹,۱ پوښتنه

د دوه ایزګاډر(۹,۱۴ شکل)له پاره دعرضي قوواو کوږوالي مومنتونو دیاګرامونه رسم کړئ،که چیرې ویشلی منظم بار $w = 4\ KN/m$ وي او منځنۍ اتکاء د $5\ cm$ په اندازه د ځای بدلون حاصل کړی وي او

همدارنګه ډیر لوړ نارملی تشنج که د عرضي مقطعي ابعاديې هريو $b \times h = 5 \times 10$ او $E = 2 \times 10^5 MPa$ او $\sigma_{alo} = 240\ MPa$ وي پیدا کړئ.




۹,۱۴ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:226]

**۹,۲ پوښتنه**

د دوه وایه ایزګاډر(۹,۱۵ شکل)له پاره د عرضي قوو او د کوږوالي مومنتونودیارګرامونه رسم کړئ،که چیرې متمرکزبار $F = 10\ KN$ او $l = 4\ m$ وي.




۹,۱۵ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:242]

**۹,۳ پوښتنه**

د دوه وایه ایزګاډر(۹,۱۶ شکل) له پاره د عرضي قوو اود کوږوالي مومنتونودیاګرامونه رسم کړئ ،که چیرې $m = 20\ KN.m$ متمرکز مومنت تراغیزلاندې وی اودهرې وایې اوږوالی یې $l = 4\ m$ وي.




۹,۱۶ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:244]

**۹,۴ پوښتنه**

د دوه وايه ايزګاډر(۹,۱۷ شکل) له پاره دننه عوامل پيداکړئ که چيرې د اتکاء دځای بدلون حاصل کړئ اوعرضي مقطع يې ثابتهm وي.




۹,۱۷ شکل: دويشلي بارلاندې دوه وايه ايزګاډر[2:263]

**۹,۵ پوښتنه**

د يوګاډر(۹,۱۸ شکل) دA اوB په نقطوکې ميلان او د Cپه نقطه کې کړيدنه پيداکړئ.




۹,۱۸ شکل: دويشلي بارلاندې دوه وايه ايزګاډر[2:264]

**۹,۶ پوښتنه**

د يوګاډر(۹,۱۹ شکل) دکانجوګيټ ميتود په مرسته دA اوB په نقطوکې ميلان او د Cپه نقطه کې دځای بدلون يا کړيدنه پيداکړئ.




۹,۱۹ شکل: دويشلي بارلاندې دوه وايه ايزګاډر[2:264]

**۹,۷ پوښتنه**

د یوګاډر(۹,۲۰ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د Cپه نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲۰ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:264]

**۹,۸ پوښتنه**

د یوګاډر(۹,۲۱ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د Cپه نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲۱ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:268]

**۹,۹ پوښتنه**

د یوګاډر(۹,۲۲ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د Bپه نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲۲ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:148]

**۹,۱۰ پوښتنه**

د یوګاډر(۹,۲۳ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د B په نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:149]

**۹,۱۱ پوښته**

د یوګاډر(۹,۲۴ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د B په نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲۴ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:144]

**۹,۱۲ پوښته**

د یوګاډر(۹,۲۵ شکل) دکانجوګیټ میتود په مرسته دA اوB په نقطوکې میلان او د B په نقطه کې دځای بدلون یا کږیدنه پیداکړئ.




۹,۲۵ شکل: دویشلي بارلاندې دوه وایه ایزګاډر[2:151]

# لسم څپرکی

## د قووترسره شوی کاراود ځای بدلون عمومي میتودونه

### ۱۰ .۱عمومي معلومات

د نا ټاکلوستاتیکي سیستمونوپه شمیرنه کې د ستاتیک د تعادلي معادلو نه برسیره د شکل بدلون یا د ځای بدلون اضافي معادله بایدترتیب شي اوله دې لارې کولی شودغه نا ټاکلې مسئله حل کړو.ددې ډول معادلې د ترتیبولولپاره باید د ساختمان څیړنه وشي.د ټاکلي ستاتیکي سیستمونو دشمیرنوپه مرسته دعناصرودشکل بدلون بایدداسې وشي،چې نه یوازې محکم بلکې بشپړه شخې هم ولري،یعنې د دې ډول ساختمان دعناصرو څخه د ګټې اخیستنې پروسه کې باید د شکل بدلون اندازه د مجازي حد نه تجاوز ونه کړي.

له همدې امله د ارتجاعي سیستمونو د ځای بدلون د میتودونوڅیړنه، چې د ساختمان د انالیزیا تحلیل د عمدومسئایلوڅخه ګڼل کیږي،باید تر ترسره شي.

## ۱۰,۲د بهرنی قووترسره شوی کار

د سختمان د عناصرو د بارونې په پایله کې هغه دسکون حالت څخه په حرکت راځي،یعنې هغه حرکت چې سرعت اوتعجیل ولري.هرڅومره چې د اضافي بار سرعت ډېر وي نو په هماغه اندازه د سختمان د شکل بدلون زیاتیږی.د دورو بارونې په پایله کې انرشیایي قوې لږي اویا هیڅ شتون نه لري،چې د بارونې دغه حالت ته ستاتیکي بارونه ویل کیږي د مثال په توګه د ارتجاعي ګاډر(۱۰,۱شکل).له پاسه د P قوې ترسره شو وټاکئ دعنصردشکل د لږبدلون په پایله کې د نقطې اویا مقطعې د ځای بدلون د بارپورې مسقیماءمتناسب دی:

$$\Delta = K \times P \dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots (a)$$




۱۰,۱شکل:دمتمرکزبار لاندې کنسولي ګاډر

په دې فورمول کې:

Δ- د بارپه استقامت کې دځای بدلون دی.

$k$- د تناسب ضریب دی،چې د عنصرد موادو،شیمااوابعادو پورې اړه لري.

$P$- واردشوی باردی.

د ډېرې کوچنی باروني $dP$ له زیاتیدو سره په پایله کې د ځای ډېر کوچنی بدلون $d\Delta$پیښیږي،چې په دې ځای بدلون کې د بار د واردیدو په پایله کې ډېرزیات کوچنی کار $dA$ ترسره کیږي:

$$dA = (P + dP)d\Delta \approx P \times d\Delta$$

$$dA = P \times d\Delta \dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots . (b)$$

څرنګه چې د قیمت ډېر زیات کم دی،نوځکه له هغه نه تیریږواو په $b$ معادله کې د $\Delta$ قیمت په وضع کولوسره په لاس راوړو چې:

$$dA = P \times d\Delta = K \times P \times dP \dots\dots (c)$$

د دغه معادلې د انتګرالونې په پایله کې د P قوې ترسره شوی کار A په لاس راوړو:

$$A = \int_0^P K \times P \times dP = K \int_0^P P \times dP = K \frac{P^2}{2}$$

ځرنګه چې $\Delta = K \times P$ نوله دې څخه د $k$قيمت په لاندې دول په لاس راوړو:

$$K = \frac{\Delta}{P}$$

د $P$قوې ترسره شوی کاربه لاندینی قیمت وي:

$$A = \frac{\Delta}{P} \times \frac{P^2}{2} = \frac{P \times \Delta}{2}$$

$$A = \frac{P \times \Delta}{2} \dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots. (10.1)$$

په (۱) فورمول کې $\Delta$ د $P$ قوې په امتد ادکې د ځای بدلون مرتسيم دی.که د متمرکزې قوې پرځای پرګاډرباندې متمرکز m مومنت وارد کړو، نوپه دې حالت کې د مومنت (۱۰,۲ شکل) ترشوی کارپه لاندې




۱۰,۲شکل:دمتمرکزمومنت لاندې ګاډر

ډول لاس ته راځي:

$$A = \frac{m \times \varphi}{2} \; \dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots\dots. (10.2)$$

په پورتني فورمول کې :

$\varphi$ – د ګاډرپه هماغه مقطع کې چې د متمرکزمومنت لاندې واقع دی.

کله چې ګاډرهم مهاله دمتمرکزوقوواومتمرکزومومنتونوتراغیزلاندې واقع شي(۱۰,۳ شکل)،نوپه دې حالت کې د دې قوو ترشره شوی کارد دوې د حاصل شووکارونوکارد جمعې د حاصل سره برابر دی:

$$A = P_1\frac{\Delta_1}{2} + P_2\frac{\Delta_2}{2} + m_1\frac{\varphi_1}{2} - m_2\frac{\varphi_2}{2}$$

په اخرنی افاده کې منفي علامه ښيي،چې دميلان $\varphi_2$ يا دوران زاويې لوری د $m_2$ متمرکزمومنتپرخلاف دی.

$$A = \sum P_i\frac{\Delta_i}{2} + \sum m_i\frac{\varphi_i}{2} \; (10.3)$$

اوکله چې nشمیرمتمرکزې قوې او n شمیرمتمرکزمومنتونه د يو ګاډر له پاسه اغيزه وکړي،نو په دې مهال د دوي ترسره شوی کار په لاندې ډول شمیرل کيږي.

د خارجي قوو ترسره شوی کارکولی شوددننه عوامل نارملي قوې N




۱۰,۳ شکل:دمتمرکزوبارونوتراغیزلاندې ګاډر

عرضي قوې Q اوکوږوالي M له مخې چې دګاډرپه مقطعوکې منځ ته راځې هم وټاکو.د دې موخې له پاره د ګاډر(۱۰,۴شکل).څخه ډېره کوچنۍ برخه dz چې د دومقطوپه منځ کې رابیلوولکه چې په ټوله




۱۰,۴ شکل:بیلابیلې عرضي مقطعې

کې نارملي قوه،عرضي قوه اودکوږوالي مومنت دګاډرلپاره دننه عوامل دي،مګرد بیلې شوې dzبرخې لپاره د خارجي قووپه څیرګڼل کیږي.له دې امله ترشوي کارد انتګرالي معادلې څخه په لاس راځي، یعنې د هرې د قوې اغیزه په بیلې شوې برخې کې مطالعه کوو که دېرې شوې برخې ګینه خوا ګینه خواسخته په پام کې ونیسو،نو ښکاره ده،چې دښې خوا Δz په اندازه دځای بدلون ترلاسه کوي، دهوک د قانون پربنسټ یې په لاندې ډول ټاکلی شو:

$$\Delta z = \frac{N.dz}{EA}$$

په د ې فورمول کې :

*EA* - په کشش یافشارکې دمیلې شخې ده.

*N*- نارملي قوه ده.

$\Delta z$ - دمقطعې دځاى بدلون.

دځاى په دغه بدلون کې د نارملي قوې ترسره شوى کار په لاندې ډول لاس ته راځي:

$$dA_N = \frac{N.\Delta z}{2} = N\frac{N.dz}{2EA} = \frac{N^2.dz}{2EA}$$

د کوږوالي مومنت له اغيزڅخه ترسره شوى کارپه لاندې ډول لاس ته راځي:

$$dA_M = \frac{M.\Delta\varphi}{2} = M\frac{M.dz}{2EI} = \frac{M^2.dz}{2EI}$$

که چيرې د دننه قوه(۱۰,۵ شکل)يوازې عرضي قوه وي نود دې قوې له اغيز د $\Delta y$ ځاى بدلون منځته راځي:

$$\Delta y = \frac{Q.dz}{G.A}\eta$$

په دغه فورمول کې :

$G.A$ - په بيځايه کيدنې کې شخى ده

G - په بيځايه کيدنې کې دارتجاعيت مودول دى:

$$G = \frac{E}{2(1+\mu)}$$

E - دارتجاعيت مودول دى.

$\mu$ - دپاوسون ضريب دى$(0 \le \mu \le 0.5)$

$\eta$- بې واحددى اويوازې دمقطعې دفورم پورې اړه لري:

د مستطيلې عرضي مقطعې لپاره $\eta = 1.2$.

د کردي عرضي مقطعې لپاره $\eta = 1.11$.

د Iعرضي مقطعې لپاره $\eta = \frac{A}{A}$.




۱۰,۵ شکل:بیلابیلې مقطعې

د مماسي تشنج دټاکنې لپاره دژوافسکي فومورمول کاروو:

$$\tau = \frac{Q_y . S_x}{I_x . b_y}$$

دعرضي قوې ترسره شوی کارپه لاندې ډول شمیرو:

$$dA_Q = Q\frac{\Delta y}{2} = Q\frac{Q.dz}{2GA}.\eta$$

د دننه عواملوپرکوچنی کارد دې عواملودهریوالجبري مجموعې څخه عبارت دی:

$$dA = dA_N + dA_Q + dA_M = \frac{N^2.dz}{2EA} +$$

$$+\frac{Q^2.dz}{2GA}\eta + \frac{M^{22}.dz}{2EI}$$

د دغه فورمول دانتګرالولونه وروسته عمومي کار په لاس راځي:

$$A = \frac{1}{2}\sum\int_0^l N\frac{N.dz}{EA} + \frac{1}{2}\sum\int_0^l Q\frac{Q.dz}{GA}\eta +$$

$$+\frac{1}{2}\sum\int_0^l M\frac{M.dz}{EI} \quad (10.4)$$

$$A = \frac{1}{2}\sum\left(\int_0^l \frac{N^2dz}{EA} + \int_0^l \frac{Q^2dz}{EA}\eta + \int_0^l \frac{M^2dz}{EA}\right) \ldots (10.5)$$

په دغومعادلوکې N ،Q اوM د میلې په عرضي مقطعوکې د دننه عوامل دي.او $\frac{N.dz}{EA}$ ،$\frac{Q.dz}{GA}$ او$\frac{M.dz}{EI}$ د پرې شوو برخو dz د ځای بدلونونه دي.

د 4معادلې څخه د دننه عواملو ترسره شوی کار په لاس راوړلی شو.

## ۱۰,۳ پوتنشيالي انرژي

د یوجسم په باروني کې بهرنې قوې کارترسره کوي،چې د دې یوه برخه د د ننه د لرې کولو او د هغه دتودوخې او مقناطیسي ځانګړتیاو په موخه په مصرف سره رسیږي اودارتجاعي موادوله پاره د دغه کاراندازه ډېره لږه اوحتی په پام کې نه نیول کیږي.

په پایله کې ویلی شو،چې د ارتجاعي سیستمونو په پروسه کې د بهرنیو قوو ترسره شوی کارپه پوتنشيالي انرژی باندې اوړي.

پوتنشيالي انرژي دشکل دبدلون په پام کې نیولوسره چې په جسم زیرمهکیږي ارتجاعي ځانګړتیا کې لري.

د جسم په باروني کې پوتنشيالي انرژي د دننه قوود تر سره شوي کارپه ځيرمنځ ته راځي.

د انرژی دساتنې د قانون پربنسټ اتکل کيږي،چې دبهرنيوقوو ترسره شوی کارد جسم د شکل دبدلون دپوتنشيالي انرژی سره برابردی يعنې:

$$A = W$$

د 4 فورمول پربنسټ پوتنشيالي انرژي په لاندې ډول لاس ته راځي:

$$W = \frac{1}{2}\sum\left(\int_0^l \frac{N^2 dz}{EA} + \int_0^l \frac{Q^2 dz}{EA}\eta + \int_0^l \frac{M^2 dz}{EA}\right) \quad (10.6)$$

## ۱۰,۴ د کارد متقابلتوب قضيه

د ارتجاعي سيستمونودوه حالتونه ګورو،چې په هرحا لت کې په سيستم باندې ستاتيکي قوه عمل کوي(۱۰,۶ شکل).دسيستمونود شکل د بدلون




۱۰. ۶ شکل:دبارلاندې ګاډر

پرمهال د ځای بدلون د $\Delta_{mn}$ حرف له مخې په نښه کوو:

د m علامه د ځای بدلون لوری اوn علامه دځای بدلون لامل ښيي.

دΔ$_{mn}$ علامه ښيي،چې د ځای بدلون د n قوې له اثره د m په لوري منځ راځي.

د nعلامه د هغې قوې څخه عبارت ده، د چې د عدد له پاسه عمل کوي لکه دبيلګې په توګه متمرکزقوه اومتمرکزمومنت اومنظم ويشلي بار دΔ$_{mn}$ ځای بدلون کيدای شي د بارد ځانګړتياوو له خطي او يا زاويه

يزوي.دشکل له مخې:

$\Delta_{11}$ – د$P_1$ قوې له اثرد $P_1$ په لورډځای بدلون.

$\Delta_{12}$ – د$P_2$ قوې له اثرد $P_1$ په لورډځای بدلون.

$\Delta_{22}$– د$P_2$ قوې له اثرد $P_2$ په لورډځای بدلون.

$\Delta_{21}$– د$P_1$ قوې له اثرد $P_2$ په لورډځای بدلون.

د $P_1$ قوې ترسره شوی کارد$A_{11}$ اود $P_2$ قوې ترسره شوی کار. د $A_{22}$ له مخې ښيو،يعنې $A_{11}$ د ځای بدلون په Iحالت کې ترسره شوی کاردی او $A_{22}$ د IIپه حالت کې ترسره شوي کار دی.

$A_{12}$ د $P_2$ قوې له اغيزڅخه د را منځته شوی ځای بدلون کې د$P_1$ قوې ترسره کاردی .

$A_{21}$ د $P_1$ قوې له اغيزڅخه د را منځته شوی ځای بدلون کې د$P_2$ قوې ترسره کاردی چې قيمتونه يې د لاندينې فورمول په مرسته ټاکلی شو:

$$A_{22} = \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2} \text{ او } A_{11} = \frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2}$$

اوس دهمدې سيستم د $P_1$ او $P_2$ قوودستاتيکي بارونې حالت په پرله پسې توګه ګورو(۱۰,۷ شکل).




۱۰,۷ شکل:پرله پسې بارونې حالت

لومړی دسیستم له پاسه دستاتیکي قوه واردو اودهغه دځای بدلون لکه د مخه موپه شکل کې وکوت،هماغه د$P_1$ قوې څخه د ځای بدلون $\Delta_{11}$ دی:

$$A_{11} = \frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2}$$

بیا وروسته د $P_2$ ستاتیکي قوه واردوو.په پایله کې دغه قوه سیستم کې یوه اضافي قوه او د ځای اضافي بدلون رامنځ ته کوي چې د IIحالت د ځای بدلون او د دننه قوې سره برا بردی.د $P_1$ قوه ثابته اوښکته خوا ته دځای داضافي بدلون لامل ګرځي،نوځکه دغه قوه یو اضافي کار $A_{12}$ ترسره کوي:

$$A_{12} = P_1 \times \Delta_{12}$$

او همدارنګه د $P_2$قوه هم یوکارترسره کوي:

$$A_{22} = \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2}$$

د پرله پسې بارونې په پایله کې بشپړ کارپه لاندې ډول شمیرل کیږي:

$$A = A_{11} + A_{12} + A_{22} =$$

$$= \frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2} + P_1 \times \Delta_{12} + \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2} \ (a)$$

او همدارنګه د $P_1$او$P_2$ (۱۰,۸ شکل) قووترسره شوی کاردهرېِ یو قوې اودځای دبدلون دضرب حاصل په څیرپه لاس راوړو:

$$A = A_{11} + A_{12} + A_{22} =$$

$$= \frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2} + P_2 \times \Delta_{21} + \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2}$$

د (a) او(b) فورمولونه سره پرتله کوو:

$$\frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2} + P_1 \times \Delta_{12} + \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2} = \frac{P_1 \times \Delta_{11}}{2} +$$

$$+P_2 \times \Delta_{21} + \frac{P_2 \times \Delta_{22}}{2}$$

له دې ځایه په لاس راوړوچې:

$$P_1 \times \Delta_{12} = P_2 \times \Delta_{21} \ (c)$$

نوځکه ترسره شوي کارونه هم سره برابردي:

$$A_{12} = A_{21} \ (10.7)$$




۱۰,۸ شکل:دقوولاندي ګادر

د لومړي حالت Iترسره شوی کارپه خپل لوري کې د دوېم حالت II قوولو اثره په خپل لوري کې ددویم حالت دترسره شوي کارسره،چې دلومړي حالت قوولو اثره رامنځ ته شوی دی سره برابردی.

دغه پایلې دبیتي قضیې یا دکارمتقابلتوب قضیې په نوم سره یادوي.
همدارنګه ترسره شوی کارد دننه عواملوپه مرسته هم په لاندې ډول لیکلی شو:

$$A = \sum \int_0^l M_1 \frac{M_2 . dz}{2EI} + \sum \int_0^l N_1 \frac{N_2 . dz}{2EA} +$$

$$+ \sum \int_0^l Q_1 \frac{Q_2 . dz}{2GA} \eta \quad (8)$$

## ۱۰,۵ دځای بدلون دمتقابلتوب قضیه

د ځای بدلون دوه حالتونه ګورو.په لومړی حالت کې دسیستم له پاسه قوه اوپه دویم حالت کې قوه واردیږي،چې دغه حالتونه په کیفي ډول واحدي نومیږي(۱۰,۹ شکل).

د واحدي قوې له اثره دځای بدلون د δ حرف له مخې ښیو:

$\delta_{21}$ - په لومړی حالت کې د$P_2$ قوې په لورد $P_1=1$ قوې له اغیزنه د ځای بدلون دی.




۱۰,۹ شکل :دواحدي قوې لاندې ګاډر

$\delta_{12}$- په دویم حالت کې د $P_1$قوې په لورد $P_2=1$ قوې له له اغیز نه د ځای بدلون دی.

د بيتي د قضيې پربنسټ لروچې:

$$P_1 \times \delta_{12} = P_2 \times \delta_{21}$$

څرنګه چې $p_1=p_2=1$ دی،نوځکه دځای دواړه بدلونونه :

$$\delta_{12} = \delta_{21}$$

اويا:

$$\delta_{mn} = \delta_{nm\,(6-9)}$$

دغه حاصل شوې رابطه دځای بدلون دمتقابلتوب ياد مکسويل قضيې په نوم سره ياديږي.يعنې د يوارتجاعي سيستم د $P_1=1$ د $P_2=1$ واحدي قوې په لور د $P_2=1$ واحدي قوې له اثره د ځای بدلون قوې په لور د$P_1=1$ له اثره دځای بدلون سره برابر دی.

کله چې $P_1 \neq 1$ او $P_2 \neq 1$ وي نو (۹) رابطه لاندينی شکل ځانته غوره کوي:

$$\Delta_{12} = \Delta_{21\,(10.6)}$$

### ۱۰,۶ د ځای بدلون فورمول

بيا هم د سيستم دوه حالتونه په پام کې نيسو:په لومړي حالت I کې د سيستم له پاسه هرډول باراغيزه کوي او II په دويم حالت کې د سيستم له پاسه(۱۰,۹ شکل)يوازې واحدي $P_2=1$ بارپه پام کې نيسواودلاندينۍ معادلې په مرسته په لاس راوړو:

$$A_{21} = P_2 = 1 \times \Delta_{21} = \Delta_{21}$$

پورتنۍ رابطه ددننه عواملوله مخې ساده کوو:

$$A_{21} = \sum \int_0^l \bar{M}_2 \frac{\bar{M}_1}{2EI} dz + \sum \int_0^l \bar{N}_2 \frac{N_1}{2EA} dz +$$

$$+ \sum \int_0^l \bar{Q}_2 \frac{Q_1}{2EA} dz.\eta \ (a)$$

په پورتنۍ معادله کې دحرف له پاسه کرښه ددې مانا لري،چې قوې په واحدي حالت کې دي. کله چې دځای خطي بدلون وټاکل شي،نوباید قوې پرته له واحدې څخه باید دغه نقطې له پاسه واقع شي چې په هغې د ځای بدلون غوښتل شوی وي.که دځای بدلون زوایه یزټاکل شوی وي نودواحدي قوې پرځای باید واحد متمرکزمومنت عوض شي.




۱۰,۱۰ شکل:دبارونولاندې ګاډر

د واحدي حالت څخه په توپیرهغه حالت چې دبهرني بارله اغیزڅخه په لاس راځي دحقیقي یا باریزحالت په نوم سره یادیږي.اود واحدي او دننه عواملو $N_P$ ، $Q_P$ اود $M_P$ دیاګرامونه د واحدي دیاګرامونو په نومونو سره یادوي.

د پورتنیومفاهیموپه پام کې نیولو سره د (a) رابطه لاندینی شکل ځانته غوره کوي:

$$\Delta_{mp}=\sum\int_{0}^{l}\bar{M}_2\frac{M_1}{EI}dz+\sum\int_{0}^{l}\bar{Q}_2\frac{Q_1}{GA}dz.\eta+$$

$$+\sum\int_{0}^{l}\bar{N}_2\frac{N_1}{EA}dz \quad (10.11)$$

په دې فورمول کې$\Delta_{mp}$ د قوې په لورد $P_m=1$ قوې له غيزڅخه د ځايبدلون دی:

$$\Delta_{mp}=\sum\frac{1}{EI}\int_{0}^{l}\bar{M}\,.\,M_P.\,dz+\sum\frac{\eta}{GA}\int_{0}^{l}\bar{Q}\,.\,Q_P.\,dz$$

$$+\sum\frac{1}{EA}\int_{0}^{l}\bar{N}\,.\,N_P.\,dz \quad (10.12)$$

د (11)او(12) فورمولونه دځای بدلون يادموئر(M0re)انتګرال په نوم سره يادوي.

کله چې د $\Delta_{mp}$قيمت مثبت وي،نود ځای بدلون د واحدي قوې په لور مطابقت لري اوکه قيمت يې منفی وي،نودغه مهال مطابقت نه لري.

په عملي چاروکې دموئر انتګرال يوحدکارول کيږي لکه په کوږوالي کې :

$$\Delta_{mp}=\sum\frac{1}{EI}\int_{0}^{l}\bar{M}\,.\,M_P.\,dz$$

اوپه کشش يافشارکې :

$$\Delta_{mp}=\sum\frac{1}{EA}\int_{0}^{l}\bar{N}\,.\,N_P.\,dz$$

### ۱۰,۷ دویرشاګین(Methods of Vershagen) میتود

د شمیرنو په ډېرو حالتونو کې د ځای بدلون د ټاکنې تخنیک ممکن په انتګرالي افاده کې د $\bar{M}$ او $M_P$ دیاګرامونود ضرب دحاصل په پام کې نیولوسره وکارول شي،نوله دې امله دغه طریقه د ډاګرامونو د طریقې په نوم سره یادوي.

په دې طریقې کې ممکن د معادلې د ضرب د حاصل یوحد خطي دیاګرام او بل حد منحنی اویاماته یا منکسره کرښه وي. لکه د ګاډرپه یوه کیفي برخه $(l)$ کې(۱۰,۱۱ شکل) د کوږوالي مومنت دیاګرام ګورو.

په دې دیاګرام کې :

$M_P$ - دبهرني بارله اغیزڅخه په دیاګرام ارینات دی .

$\bar{M}$- دواحدي قوې څخه په دیاګرام کې اردینات دی.

د شکل له مخې د $\bar{M}$اردینات دقیمت دپیداکولولپاره لروچې:

$$\bar{M} = z \times tan \propto \ (a)$$

دغه قیمت په انتګرالي معادله کې وضع کوو:

$$\int_0^{\ell} \mathrm{M_P}.\bar{\mathrm{M}}.\mathrm{dz} = \int_0^{\ell} \mathrm{M_P}.z \times tan \propto . dz =$$

$$= tan \propto \int_0^{\ell} M_P.z.dz$$




۱۰,۱۱شکل:دويرشاګين دميتوددياګرام

په فورمول کې د $M_P.dz = d\Omega_P$ دياګرام مساحت دی نوځکه:

$$tan \propto \int_0^{\ell} M_P.z.dz = \tan \int_0^{\ell} z.d\Omega_P \ (b)$$

په فورمول کې $\int_0^{\ell} z.d\Omega_P$ نسبت $0-0^/$ محور ته د $\Omega$سطحې ستاتيکي مومنت دی،نوځکه ليکو:

$$\int_0^{\ell} z \times d\Omega_P = \Omega_P \times Z_C \ (c)$$

په دې فورمول کې $Z_C$ د $M_P$دياګرام د $\Omega$ مساحت د ثقل مرکز اردينات دی،نوځکه ليکو:

$$\int_0^{\ell} M_P \times \bar{M} \times dz = Z_C \times tan\alpha \times \Omega \ (d)$$

څرنګه چې $Z_C \times tan\alpha = Y_C$ دی،نوځکه لروچې:

$$\int_0^{\ell} M_P \times \bar{M} \times dz = \Omega_P \times Y_C \ (10-13)$$

په پايله د دوو تابعګانو(ددوودياګرامونو) چې له دوې څخه يوه مستقيمه کرښه ده اود $M_P$ منحنی الخط دياګرام اود $M_P$ دياګرام د ثقل مرکزاردينات د ضرب حاصل انتګرام انتګرال دی.د ضرب د حاصل مثبت قميت هغه وخت په لاس راځي،چې يو دياګرام د بل دياګرام د ثقل مرکز لاندې هم علامه وي اوپرته له دې نه منفی دی.

دغه ميتود په 1925 ميلادي کال کې دروسې دمسکو داوسپنې دلارې د ترانسپورت انستيتوت محصل ويرشاګين کشف کړي دی،چې اوس د همدې په نوم سره ياديږي.د نوموړي د علمي څيړنو په پايله کې د ځای بدلون د دغه فورمول په مرسته شميرل کيږي:

$$\Delta_{mp} = \sum \int_0^{\ell} \bar{M} \frac{M_P}{EI} \times dz = \sum \frac{\Omega_P}{EI} \times Y_C \ (10.14)$$

په دې فورمول کې شخی ثابته EI=const ده.

بايد له دې نه يادونه وشي،چې د ثقل مرکزاردينات بايد دخطي دياګرام څخه واخيستل شي.اوکله چې دواړه رسم شوي دياګرامونه مستقم الخطه وې،نود $Y_C$ قيمت په خپله خوښه دهريو دياګرام څخه اخيستلی شواوپه نوروحالتونوکې د لاندينيو جدولونو څخه ګته اخيستلی شو.همدارنګه د نيم دايرې لپا ره مساحت:

$$A = \frac{\pi R^2}{2}$$




د ثقل مرکزکوردينات يې :

$$Y_C = \frac{4R}{3}$$




۱۰,۱۲ شکل:نیم دایره

۱ – جدول

| ګڼه | شکل | مساحت Ω | دثقل مرکزکوردینات | |
|---|---|---|---|---|
| | | | $Z_1$ | $Z_2$ |
| 1 |  | $h \times l$ | $l/2$ | $l/2$ |
| 2 |  | $\frac{h.l}{2}$ | $l/3$ | $2/3\, l$ |
| 3 |  | $\frac{h}{3} \times l$ | $l/4$ | $\frac{3}{4} \times l$ |
| 4 |  | $\frac{h}{4} \times l$ | $l/5$ | $\frac{4}{5} \times l$ |
| 5 |  | $\frac{2}{3} \times hl$ | $\frac{3}{8} \times l$ | $\frac{5}{8} \times l$ |
| 6 |  | $\theta \times R^2$ | $x = \frac{2\pi sin\theta}{3\theta}$ | |

## ۱۰,۸ د اتکاءيزوعکس العملونوپه پام نيولوسره دځای بدلون

د يوچوګاټ(۱۰a.۱۳ شکل)په اتکاءګانوکې ديوې اتکاء دځای عمودي بدلون Δ را منځته کيږي.لومړی د k نقطې د ځای بدلون پيداکوو.د دې له پاره واحدي بار(۱۰b.۱۳ شکل).$p = 1$ واقع کوو.

اتکاءيزعکس په هغه اتکاءکې رامنځ ته کيږي،چې په هغې کې د ځای بدلون kپيښيږي اود دغه قيمت د ستاتيک د تعادلي معادلې په مرسته ټاکلي شو:

$$\sum \mathrm{M_A} = 0;\ P \times l - R \times 2l = 0.$$




۱۰,۱۳ شکل:چوګاټ

له دې معادلې څخه په لاس راوړوچې:

$$R = \frac{P \times l}{2l} = \frac{P}{2}$$

دپورتينودووحالتونوله پاره دکاردمقابليت په پام کې نيولوسره ليکلی شوچې:

$$W_{12} = W_{21} \Rightarrow 0 = (P.\Delta_k - R.\Delta)$$

په لومړي حالت دځای د بدلون له پاره ترسره شوی کار صفر دی $W_{12} = 0$ ځکه چې په دې حالت کې قوه نشته دی.ليدل کيږي،چې د $R$ او د $\Delta$ لوري يو له بله سره نه منطبق کيږي،نوځکه د ټاکلي ستاتيکي جوړښت کې د اتکاء څخه د ځای په بدلون کې دننه قوې نه پيښيږي.نو د دې له پاره بايد:

۱.د جوړښت واحدي حالت غوره کوواوټکلوو،چې غيرمتحرکه اتکاء د ځای بدلون حاصلوي.

۲. دځای دبدلون په لورجوړښت په واحدي باربارووو.

۳. په هغه ا تکساء ګانوکې اتکاءيزعکس العمل پيداکوو،چې هغوی باندې واحدي بارواردشوی وي.

۴. دقوې ترسره کاردځای دبدلون په لورصفرګڼو.

۵. د نورولټول شووځای بدلونونو له پاره ترلاسه شوې معادله حلوو.
اټکلوو،چې ددرې غوټې يزچوکاټ(۱۰.a۱۴شکل) له پاسه د q ويشلی بار واقع شوی دی،نو د اتکاءيزعکس العمل د ټاکنې نه وروسته ليکو چې:

$$\Delta = \frac{V}{k_0}$$

$k_0$.داتکاءدارتجاعي سختۍ ضريب دی.

اوس د C په غوټه کې د ځای عمودی بدلون پيدا کوو.دلته يوازې د کوږوالي مومنت $M_F$ اغيزه (۱۰.b۱۴شکل)په پام کې نيسو.

واحدي بار $p = 1$ د Cپه غوټه کې دلټول شوي ځای بدلون په لور واقع کوواودواحدبار(۱۰.c۱۴ شکل)دکوږوالي مومنت $\overline{M_k}$دياګرام رسموو،دکاردمتقابليت تيوري په کارولوسره ليکوچې:

$$W_{12} = W_{21}$$

او:

$$\sum \int \frac{\mathrm{M_F} \times \overline{\mathrm{M_k}}}{\mathrm{EI}} \times ds =$$

$$= P \times \Delta_C - 2\bar{V} \times \Delta = \Delta_C - 2\bar{V} \times \Delta$$




۱۰,۱۴شکل: درې غوټې يزچوکاټ 2: 44

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$\Delta_C = \sum \int \frac{M_F \times \overline{M_k}}{EI} \times ds + 2\bar{V} \times \Delta =$$

$$= \sum \int \frac{M_F \times \overline{M_k}}{EI} \times ds + \Delta \quad (10.15)$$

## ۱۰,۱مثال

که چيرې د يوې ميلې(۱۰,۱۵شکل)، لپاره P ، E،a او انرشيايزمومنت قيمتونه معلوم وي دځای بدلون $\Delta_C$پيداکړئ.

## حل

لومړی اتکاءيزعکس العملونه پيدا کولو لپاره د ستاتيک تعادلي معادلې کاروو:

$$M_A = 0;\ P \times 2a - R_B \times 4a = 0.$$

له دې ځايه په لاس راوړوچې:

$$R_B = \frac{P \times 2a}{4a} = 0.5P$$




۱۰. ۱۵شکل: دمتمرکزبارلاندې ګاډر

$$M_B = 0;\ -P \times 2a + R_A \times 4a = 0.$$

$$R_A = \frac{P \times 2a}{4a} = 0.5P$$

د کوړ.والي مومنت قيمت پيدا کوواوډياګرام(۱۰.b۱۵شکل) يې رسموو:

$$M_C = 0;\ R_A \times 2a = 0$$

$$0.5P \times 2a = Pa$$

که P=1 شي،نو:

$$\bar{M}_C = a$$

ديا ګرام يې رسموو(۱۰.d۱۵شکل).اودهرې برخې مساحتونه پيداکوو:

$$\Omega_1 = \frac{Pa^2}{4};\ Y_{C_1} = \frac{5}{6};\ Y_{C_1}^{/} = \frac{a}{3}$$

$$\Omega_2 = \frac{Pa^2}{2};\ Y_{C_2} = \frac{5}{8};\ Y_{C_2}^{/} = \frac{3a}{4}$$

$$\Omega_3 = \frac{Pa^2}{4};\ Y_{C_3} = \frac{7}{12};\ Y_{C_3}^{/} = \frac{5a}{6}$$

$$\Omega_4 = Pa^2;\ Y_{C_4} = \frac{1}{3};\ Y_{C_4}^{/} = \frac{2a}{3}$$

څرنګه دګاډردعرضي مقطعې انرشيايي مومنت اودموادودارتجاعتيت مودول معلوم دی،نو کولی شوچې د خای بدلون د فورمول په مرسته په لاس راوړو:

$$\Delta_C = \frac{1}{EI} \times \Omega_1 \times Y_{C_1}^{/} + \frac{1}{EI} \times \frac{\Omega_2}{2} \times Y_{C_2}^{/} +$$

$$+\frac{1}{EI}\times+\frac{1}{EI}\times\Omega_3\times Y_{C_3}^{/}=\frac{29Pa^2}{48\times EI}$$

$$\Delta_C=\frac{29Pa^2}{48\times EI}$$




۱۵,۱۰ شکل:دبار لاندې ګاډر

## ۱۰,۲مثال

که ديوفرم(۱۰,۱۶شکل) لپاره د P ، P/2 او $M_0$=Pa/2 قيمتونه معلوم وي،نود A عرضي مقطعې دځای بدلون پيداکړئ.

**حل**

لومړی د ۱۰,۱۶ شکل له مخې د ستاتيک د تعادلې معادلو په مرسته اتکاءيز عکس العملونه پيداکوو:

$$\sum \mathrm{M_B} = 0;\ Pa + \frac{P2a}{2} - \frac{Pa}{2} + Pa -$$

$$-M_B = 0$$

$$M_B = 2Pa - \frac{Pa}{2} = \frac{3Pa}{2} \Rightarrow M_B = \frac{3Pa}{2}$$

$$\sum \mathrm{F_y} = 0;\ V_B - P = 0 \Rightarrow V_B = P$$

$$\sum \mathrm{F_x} = 0;\ \frac{P}{2} - H_B = 0 \Rightarrow H_B = \frac{P}{2}$$

له دې وروسته دکوږوالي مومنتونه پيداکوو:

$$\mathrm{M_B}^{\mathrm{L.S}} = 0$$

$$\mathrm{M_B}^{\mathrm{R.S}} = -M_B = \frac{3a}{2}$$

$$M_C = -M_B + H_B \times 2a = -\frac{3Pa}{2} + \frac{2pa}{2} =$$

$$= -\frac{pa}{2} \Rightarrow -\frac{Pa}{2}$$

$$M_D = -M_0 = \frac{Pa}{2}$$




١٠,١٧ شکل:دبهرني بارلاندې فرم

په موهومي حالت کې عکس العملونه :

$$M_C = -a$$

$$H_B = 1$$

$$V_B = 0$$

اودکوړوالي مومنتونوقيمتونه :

$$M_B^{L.S} = 0$$

$$M_B^{L.S} = -a$$

$$M_C = -M_B + V_B = -a + 2a = a$$

$$M_D = 1 \times a = a$$

د لاس ته راغلو قيمتونوله مخې دياګرامونه رسموو.

د دغه دياګرامونوله مخې په لاس راوړوچې:

$$Y_{C_1} = \frac{Pa}{2}\ \Omega_1 = \frac{a^2}{2}$$

$$Y_{C_2} = a\ \Omega_2 = \frac{Pa^2}{8}$$

$$Y_{C_3} = a\ \Omega_3 = \frac{Pa^2}{8}$$

$$Y_{C_4} = \frac{2Pa}{3}\ \Omega_4 = \frac{a^2}{2}$$

$$Y_{C_4} = \frac{4Pa}{3}\ \Omega_4 = \frac{a^2}{2}$$

$$\delta_A = \frac{1}{EI}\left(\Omega_1 \times Y_{C_1}\right) + \frac{1}{EI}\left(\Omega_2 \times Y_{C_2}\right) +$$

$$+\ \frac{1}{EI}\left(\Omega_3 \times Y_{C_3}\right) + \frac{1}{EI}\left(\Omega_4 \times Y_{C_4}\right) +$$

$$+\frac{1}{EI}\left(\Omega_5 \times Y_{C_5}\right) = \frac{7 \times pa^3}{12 \times EI}$$

$$\delta_A = \frac{7 \times pa^3}{12 \times EI}$$




۱۸,۱۰ شکل:دکوړوالي مومنتونودياګرامونه

## ۱۰,۹ کار- انرژي ميتود

د کار- انرزی ميتود دځای دبدلون د محاسبه کولوپه پروسه کې تيارشوی دی دکار- انرژی ميتود پخپله دځای په ټاکنې کې مرسته کوي،له دې کبله چې ځای نا معلوم بدلون کيدای شي،چې دقوې اود ځای بدلون په پايله کې د کارله لا س ته راوړلوله پاره دپايلې څرګندونې نامناسبې وي.

د دې مطلب د څرګندونې لپاره يوګاډر(۱۰,۱۹ شکل)دبهرني بارلاندې په پام کې نيسو،ليدل کيږي چې دغه ګاډردشکل بدلون حاصلوي او B نقطه د ځای بدلون حاصلوي.




۱۰,۱۹ شکل:ګاډردبهرني بارلاندې

همدارنګه ددريوميلويوچوکات(۱۰,۲۰ شکل)بهرني بارتراغيزلاندې په پام کې نيسو.ليدل چې د Aاتکاء اود B نقطه د ځای بدلونونه حاصلوي يعنې د B نقطه$B'$ نقطې ته د ځای بدلون مومي او د A اتکاء $A'$ ته د ځای بدلون کوي.




۱۰,۲۰ شکل:دبار لاندې چوکاټ

په دې بدلون کې دغه قوه يوکارترسره کوي(۱۰,۲۰ شکل)،چې د افقي اوعمودي ځای بدلونونوپه پايله کې رامنځته کيږي:

$$W = F_x \times \delta_x + F_y \delta_y \ (10.15)$$

په دې فورمول کې:

W- دقوې ترسره شوی کاردی.

$F_x$- دقوې افقي مرکبه ده.

$F_y$- دقوې عمودي مرکبه ده.

$\delta_x$- د $F_x$ قوې له اثره د ځای افقي بدلون دی.

$\delta_y$- د $F_y$ قوې له اثره د ځای افقي بدلون دی.




که چیرې دثابت مومنت له مخې کارمحاسبه کړو،نومادي جسم دوران مومي (۱۰.c۲۰شکل )اوترسره شوی کاردمحاسبه کولوله پاره دلاندیني فورمول نه کاراخلو:

$$W = M.\theta \ (10.16)$$

په دې فورمول کې :

$W$- دقوې دمومنت ترسره شوی کاردی.

$M$- مومنت دی.

$\theta$- دوراني زاویه ده.

په دې ځای دمومنت قیمت د:

$$M = F.a \ (10.18)$$

سره برابردی،نوځکه لیکلی شوچې:

$$W = \int_{0}^{\theta} M \times d\theta \quad (10.19)$$

اوکه قوې په پام کې نيولوسره ترسره کارمحاسبه کړو،(۱۰d ۲۰شکل )
د قوې اودځای دبدلون دضرب حاصل نه کاراخلو:

$$W = F.d\theta \ (10.20)$$

که دامعادلې په انتګرالونوکې ونيسو،نوپه لاس راوړوچې:

$$W = \int_{0}^{\delta} F \times ds \ (10.21)$$

د دغوپورتنيودانتګراوني ځخ په لاس راوړوچې:

$$W = \frac{F}{2}.\delta \ (10.22)$$

او:

$$W = \frac{M}{2}.\theta \ (10.23)$$

دپورتنيوفورمولونووضاحت د لاندينيو ګرافونوله مخې کيدای شي.
دمومنت اوقوې ګرافونه




۱۰,۱۰ د شکل دمطلقه بدلون له مخې دانرژۍ تاکنه

که چيرې يوګاډر(۱۰,۲۲شکل) دمحوري فشاري قووتراغيز لاندې واقع کړونو ليدل کيږي چې د ګاډرازاده خوا د شکل بدلون $\Delta l$ مومي.دهوک د دويم قانون پربنسټ دغه بدلون په لاندې ډول څرګندولی شو:

$$\Delta l = \frac{F.L}{E.A} \quad (10.24)$$

نوڅکه رامنځ ته شوې انرژي به لاندې ډول وي:

$$U = \frac{F}{2}.\Delta l \quad (10.25)$$

$$\Delta L = \frac{F.L}{E.A} \quad (10.26)$$




۱۰,۲۱ شکل:ديومادي جسم دځای بدلون

په دې فورمول کې:

L . ميلې اوږدوالی دی.

A.دميلې دعرضي مقطعې مساحت دی.

F.فشاري قوه ده.

E.دميلې د موادودارتجاعيت مودول دی.

که د شکل مطلقه بدلون قيمت په (10.25) معادله کې وضع کړو،نود مصرف شوې انرژۍ قيمت په لاندې توګه پيداکوو:

$$U = \frac{F}{E} \times \frac{F.L}{2EA} = \frac{F^2.L}{2EA} \ (10.27)$$

همدارنګه دکوږوالي مومنت په پام کې نيولوسره ترسره کارياانرژي په لاندې ډول ترلاسه کوو:

$$U = \frac{M}{2}.d\theta \ (10.28)$$

څرنګه چې دوراني زاويه لاندينی قيمت لري،نوځکه پيداکووچې:

$$d\theta = \frac{M}{EI}.dx \ (10.29)$$

د پورتني قيمت په وضع کولوسره په لاس راځي چې:

$$dU = \frac{M}{2}.\frac{M}{EI}\ dx = \frac{M^2}{2EI}dx \ (10.28)$$

د پورتنۍ معادلې دانتګرالونې څخه په لاس راځي چې :

$$U = \int_0^L \frac{M^2}{2EI}\, dx \ (10.29)$$

دکوږوالي مومنت دقيمت په پام کې نيولوسره ليکلی شوچې:

$$dU = M.\,d\theta \ (10.30)$$

$$dU = \frac{M.\,M_P}{EI} \ (10.30')$$

**۱۰,۱۱ دکار- انرژۍ جمع بندي**

د عملي چاروله پاره يوعمومي فورمول کارول کيږي،چې په لاندې ډول دی:

$$\frac{P}{2}\delta = \sum \frac{P^2L}{2EA} \ (7.31)$$

**۱۰,۷مثال**

د يوګاډر(۱۰,۲۲ شکل) په منځ کې د 3 kips متمرکزواردشوی دی، د ګاډرګروپيدنه پيداکړئ.

**حل**

لاندينی فورمول کاروو:

$$\sum F_1.\,\delta_2 = \sum F_2.\,\delta_1 \ (a)$$

$$1.5(0) + 3kip \times \frac{5L^3}{12EI} - 1.5 \times \frac{4L^3}{3EI} =$$

$$= 4 \times \frac{3L^3}{16EI} + 4 \times (0) + 4(0)$$

$$\frac{3L^3}{4EI} = -\frac{3L^3}{4EI}$$




۱۰,۲۲ شکل:دمتمرکز بار لاندې ګاډر

**پوښتنې**

۱۰,۱ پوښتنه: ديوې قيچي(۱۰,۲۳ شکل)له پاره چې د 100 kips افقي بار لاندې واقع ده او د ميلوعرضي مقطعو مساحت يې $4\ in^2$او د ارتجاعيت مودول $24000\ kip/in^2$ دی د B غوټې افقي ا وعمودي د ځای بدلونونه پيداکړئ.




۱۰,۲۳ شکل:دمتمرکزبارلاندې قيچي

۱۰,۲ پوښتنه: ديودرې غوټې ايزکمان (۱۰,۲۴ شکل) د B غوټې د ځای بدلون محاسبه کړئ.




۱۰,۲۴ شکل:درې غوټې يزکمان

۳,۱۰ پوښتنه: ديوجوړښت (۱۰,۲۵ شکل) د Dاتکاء ″ 1.5د ځای بدلون کوي د B غوټې دځای افقي اوعمودي بدلونونه محاسبه کړئ.




۱۰,۲۵ شکل:دخوميلوسيستم

**۱۰,۳ پوښتنه**

